

اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۱۰۱ گڼه، ۱۴۰۵ غویی: لومړی مخ/ شماره ۱۰۱ ثور ۱۴۰۵:صفحه اول


## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له رییس ښاغلي عرفات جمال سره وکتل

په دې لیدنه کې، چې د افغان راستنېدونکو او کډوالو په اړه خبرې وشوې، ښاغلي عرفات جمال وویل، چې د افغان کډوالو د ستونزو د حل نړۍوال ګروپ مشرتابه د افغان راستنو شویو د ستونزو د حل په موخه د لا ډېرو مالي امکاناتو د جلب هڅې پیل کړې دي او په نږدې راتلونکي کې به افغانستان ته سفر وکړي.

د نوموړي پر وینا، چې د ملګرو ملتونو پر مسوولو ادارو سربېره نړۍوال بنسټونه د افغان کډوالو ستونزو ته د رسېدنې هڅې کوي او تمه ده، چې د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنر بهرام صالح هم په نږدې وخت کې د افغان راستنو شویو د وضعیت د ارزونې په موخه کابل ته سفر وکړي.

ښاغلي عرفات جمال راستنو شویو ته د مرستو رسولو او کاري بوختیاوو ته په اشارې سره زیاته کړه، چې په هرات او مزار شریف ښارونو کې یې د غالیو د اوبدلو دوه لویې کارخونې جوړې کړې، چې سلګونو افغان راستنو شویو ته به پکې کاري فرصتونه برابر شي.

هغه د ناستې پر دوام، د یو لړ مهمو موضوع ګانو په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ رییس ته ښه راغلاست وویل او د افغان راستنېدونکو او کډوالو د لاس نیوی او ور ته د مرستو رسولو په برخه کې یې د ملګرو ملتونو د مرستو ستاینه وکړه.

محترم وزیر زیاته کړه، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ لخوا مرسته شوې سلګونه خېمې لرې پرتو سیمو ته لېږل شوې او همدارنګه د کډوالو چارو وزارت لندمهاله مېشتغالو ته اړین توکي او امکانات لېږلي دي.

محترم مولوي عبدالکبیر د فرضي کرښې هغې غاړې ته د افغان راستنېدونکو وضعیت د اندېښنې وړ وبلل او زیاته یې کړه، چې لا هم افغان کډوال د زاخېلو او حمزه په کمپونو کې د ثبت له ستونزو سره مخ دي او خدماتو ته لاس رسی نه لري.

دغه راز نوموړي په هېواد کې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې د ملګرونو ملتونه له هڅو ملاتړ وکړ او زیاته یې کړه، چې د کډوالو په برخه کې د نړۍوالو ادارو د مسوولینو د راتګ هرکلی کوي.



## وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با معاون والی ولایت پکتیا، دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، با مولوی انعام‌الله صلاح‌الدین معاون والی ولایت پکتیا، در دفتر کارش دیدار کرد.

در این دیدار که در مورد به وضعیت برگشت‌کنندگان در آن ولایت بحث شد، معاون والی درباره ساخت شهرک مسکونی برای مهاجرین برگشت کننده توسط کشور قطر معلومات ارائه نموده افزود: کارهای ساخت و ساز به خوبی پیش می‌رود و انتظار می‌رود به زودی به بهره برداری سپرده شود.

وی همچنین به آغاز امور اولیه دو شهرک مسکونی برای برگشت‌کنندگان در ولسوالی‌های احمدآباد و روحانی‌بابا اشاره کرده توضیح داد: تخصیص زمین در آن شهرک ها، سرپناه دائمی را برای بسیاری از خانواده‌های برگشت‌کننده فراهم خواهد کرد.

در ادامه نشست، مولوی انعام‌الله صلاح‌الدین پیشنهاداتی را برای تأمین سرپناه موقت، خیمه، فراهم کردن امکانات مورد نیاز و بهبود روند کارها برای برگشت‌کنندگان ارائه کرد.

محترم مولوی عبدالکبیر معاون والی ولایت پکتیا را خوش‌آمدید گفته و از تلاش‌های نهادهای امارت اسلامی در زمینه مهاجرین و برگشت‌کنندگان قدردانی بعمل آورد.

محترم وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان تأمین فرصت های شغلی و سرپناه دائمی برای برگشت‌کنندگان را مهم تلقی نموده افزود:

امارت اسلامی با تمام امکانات ممکن تلاش می‌کند مشکلات برگشت کننده گان را حل نماید.

در پایان نشست، محترم مولوی عبدالکبیر یادآور شد که پیشنهادهای ارائه شده مورد رسیده گی قرار خواهد گرفت و تأکید کرد که امارت اسلامی از تلاش های خویش در حمایت از برگشت‌کنندگان دریغ نخواهد کرد.



## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معین له ترمینال پایتخت کمپ څخه لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد او د لنډمهالې مېشتېدنې کمېټې رییس له مل پلاوي سره د کابل ښار په ۱۷مه ناحیه کې له ترمینال پایتخت کمپ څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي معین د لیدنې پر مهال د کډوالو روغتیایي وضعیت وارزاوه، د راستنو شویو ستونزې او اړتیاوې یې واورېدې او د پوره کولو ډاډ یې ورکړ.

همدارنګه نوموړي د یاد کمپ مسوولینو ته د ښو خدمتونو وړاندې کولو په اړه لازمې سپارښتنې وکړې .

هغه د کډوالو د ژوند د شرایطو پر ښه والي ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د دغه کمپ اوسېدونکو ته د ښو او پر وخت خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې به د دولتي او غیر دولتي بنسټونو په همکارۍ لازم اقدامات ترسره کړي.

دغه لیدنې په کمپونو کې د راستونو شویو د ژوند د ښه والي په موخه د مهاجرینو چارو وزارت له برنامو شمېرل کېږي.



## ده تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضاء رسید

وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان ده تفاهم نامه های همکاری میان موسسات ، اپیک انترنشنل، انجمن مهاجرین دنمارک در افغانستان، تعلیمی و خیریه افغان، بازسازی افغانستان ، تعلیمی زنان ، خدمات اجتماعی زنان افغانستان، انکشافی و اجتماعی رازی، بشری صلح سازان افغان، دوستی مردم فرانسه با افغان ها، احیای مجدد انصاری برای افغانستان و د کلیو او پرمختایی پروگرام به امضا رسید.

این تفاهم نامه ها به ارزش پنج میلیون ۹۴۰ هزار و ۴۷٦ دالر امریکایی دربخش های کمک نقدی، آموزشی، بهبود

تجارت های کوچک و متوسط، اعمار و ترمیم خانه ها شبکه آبرسانی و فراهم نمودن خدمات آب رسانی ، آموزش های حرفوی، ایجاد کسب و کار های کوچک، توزیع مواد غذایی، مواد مغذی و اگاهی دهی خدمات وجامعه میزبان برای ۶۹۷۸۴ خانواده و ۱۰۰۹۲۹ تن بیجاشده، برگشت کننده در ولایات، کابل، لوگر، کاپیسا، پکتیا، خوست، غزنی، کنر، میدان وردک، ننگرهار، لغمان، پروان، بامیان، هرات، بادغیس، فراه، قندهار، نمیروز بمصرف میرسد.وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان از تلاش های بیشتر در جهت حمایت مهاجرین و برگشت کننده گان در کشور با همکاری نهاد های همکار دریغ نخواهد کرد.

## پکتیا کې د مهاجرینو لپاره د مرستو راټولولو او وېشلو په موخه ناسته وشوه

د پکتیا والي پر مشرۍ او د مهاجرینو، علماوو شورا رییسانو، خیریه بنسټونو مسوولینو، علماوو، ملي سوداګرو او د صنفي ټولنو استازو په شتون کې د مهاجرینو لپاره د مرستو را ټولولو او وېشلو په موخه ناسته وشوه.

پیل کې د علماوو شورا رییس د شریعت له مخې له اړمنو سره پر مرستو ټینګار وکړ، بیا د اقتصاد ریاست استازي د اسلامي امارت د مقام فرمان او د مرستو را ټولولو لاربنود ولوست.

د مهاجرینو رییس مفتي حبیب الله ټینګار وکړ، چې مرستو پروسه باید په رانه ډول ترسره شي او له ټولو یې وغوښتل، چې د فرمان په پلي کولو کې فعاله ونډه واخلي.

د پکتیا والي ملا مهرالله حماد وویل: له راستنو شویو کډوالو سره مرستې شرعي او ملي مسوولیت دی او فرمان باید په اخلاص او ګډه توګه پلي شي، تر څو هغوی ته د ژوند لومړني امکانات برابر شي.

نوموړي زیاته کړه، چې نظام د کډوالو لپاره د خدمتونو او مدیریت په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې؛ خو اړتیا ده چې اړوند بنسټونه، سوداګر او صنفي ټولنې خپل مسوولیتونه ادا کړي او په عملي توګه له کډوالو سره مرستې وکړي.

پای کې سوداګرو، د خیریه بنسټونو مسوولینو او د ټولنو استازو د فرمان پر صادرولو خوښي ښوده او د پلي کولو په برخه کې یې ډاډ ورکړ، چې په دغه نیک اقدام کې به ګډون وکړي.

## نشست هماهنگی ریاست های مهاجرین، اقتصاد و موسسات همکار در ولایت ننگرهار برگزارشد

نشست ماهانه هماهنگی میان ریاست های امور مهاجرین و عودت کننده گان، اقتصاد و مؤسسات داخلی و خارجی در ولایت ننگرهار بر ریاست رئیس مهاجرین، به تاریخ ۵ ثور برگزار شد.

در آن نشست در مورد پروژه‌های انجام شده و برنامه های آینده، شفافیت، مؤثریت، میکانیزم کمک رسانی، حمایت از بازگشت کنندگان و بیجاشدگان داخلی، و توسعه اقتصادی بحث و تأکید صورت گرفت.

رئیس اقتصاد از مؤسسات خواست تا فعالیت‌های خود را در هماهنگی با ادارات مربوطه پیش ببرند تا خدمات به‌صورت منظم و مؤثر ارائه شود.

ملا عزیزالرحمن سرحد رئیس مهاجرین از کمک ها و فعالیت های انجام‌شده توسط مؤسسات قدردانی کرده و خواستار افزایش آن شد تا به مشکلات بازگشت کنندگان و بیجاشده گان در آن ولایت به موقع رسیدگی شود.

نماینده های مؤسسات مشکلات و پیشنهادهای خود را شریک ساخته تعهد سپردند که در چارچوب امکانات خود فعالیت های‌شان را به‌گونه بهتر ادامه دهند.

## فراه کې یو ښوونځی ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د فراه مرکز اړوند چهار باغ کلي کې د نجونو یو ښوونځي چې ۱۶ درسي خونې لري، جوړ او په رسمي توګه د یاد ولایت پوهنې ریاست ته وسپارل شو.

دغه ښوونځی د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له لوري د ۳۴۵ زره امریکایي ډالرو پر ارزښت په دوو پوړونو کې د دارالمعاد ساختماني شرکت له لوري په یو کال کې جوړ شو، چې ۱۶ درسي خونې، ۱۰ عصري تشنابونه، ۲۷۵ متره انګړ، ۱۰۰ متره ژوره څاه، یوه د ساتونکو خونه، ۱۰ متره مکعب د اوبو زېرمه، د ۱۰ کیلوواټو په اندازه د لمریزې برېښنا سیستم، د لاس مینځلو ځای، یو لوبغالی، شنه ساحه او پلې لاره لري.

دغه ښوونځی د یاد ولایت مقام، د پوهنې، مهاجرینو او راستنېدونکو چارو، اقتصاد او د کور او ښار جوړولو ریاستونو استازو په شتون کې پوهنې ریاست ته وسپارل شو، تر څو په یاد ولایت کې د نجونو لپاره په هغه سیمه کې د زده‌کړو لا ښه زمینه برابره شي.

د یادولو ده، چې د دغه ښوونځي تر ګټې اخیستنې وروسته به راستنېدونکو او بېځایه شویو ته د زده‌کړو لاښه زمینه برابره شي.

## نزدیک به یکهزار تن مهاجر زندانی افغان از پاکستان برگشت نمودند

طی دو هفته روان، ۸۶۱ تن از مهاجرین افغان که در زندان های کشور پاکستان در بند بودند رها شده و پس از آزادی از طریق خط فرضی تورخم ولایت ننگرهار و سپین بولدک ولایت قندهار به کشور برگشت نمودند.

به گفته مسوولان در آمریت های انتقالات ریاست های امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایات ننگرهار و قندهار در سپین بولدک و تورخم، ۷۱۶ تن از طریق خط فرضی تورخم و ۱۴۵ تن از طریق سپین بولدک برگشت نمودند.

افراد یاد شده به دلایل برخی مشکلات اسناد اقامت بازداشت شده بودند که در مدت زمان های مختلف در بند بودند.

آنان پس از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.



## والی ولایت کندز خواهان توجه بیشتر برحل مشکلات مهاجرین برگشت کننده شد

مولوی نصرالله مطیع والی ولایت کندز در دیداری که با رییسان امور مهاجرین و عودت کننده گان و شهر سازی آن ولایت داشت درباره فراهم سازی سهولت‌ها برای مهاجرین و بازگشت‌کنندگان گفتگو نمود.

وی به مسئولان ادارات هدایت داد تا برای حل مشکلات اساسی خانواده‌های مهاجر و بازگشت کننده در آن ولایت، توجه و تلاش بیشتری صورت گیرد.

آقای مطیع درسخنان خود برتسریع روند توزیع زمین درشهرک های اختصاص یافته برای اسکان خانواده‌های مهاجر تأکید کرده و اطمینان داد که مقام ولایت در این زمینه همکاری های لازم را انجام خواهد داد.




## د روان کال وري میاشت کې د هېواد په ۲۰ ولایتونو کې تر ۱۰۰ میلیونو د زیاتو افغانیو پر ارزښت مرستې وېشل شوې

د ۱۴۷ میلیونو ۹۵۸ زره او ۸۵۷ افغانیو پر ارزښت دغه بشر دوستانه مرستې په ۲۰ ولایتونو کې ۴۴ زره او ۵۷۰ بېځایه شویو، راستنو شویو کورنیو او کوربه ټولنو ته د روان کال په وري میاشت کې وېشل شوې دي.

یادې کورنۍ، چې د همکارو موسسو او د دغه وزارت دویمي واحدونو په همغږۍ په کابل، ننګرهار، کونړ، پکتیا، پکتیکا، لوګر، غزني، کندهار، هلمند، هرات، فراه، نیمروز، بلخ، سرپل، بغلان، فاریاب، تخار، زابل، ارزګان او کندز کې له مخکې پېژندل شوې وې، د یاد وزارت د دویمي واحدونو او د ملي او نړۍوالو همکارو بنسټونو په همغږۍ چمتو شوې نغدي، خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې ترلاسه کړې.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له نړۍوالو همکارو بنسټونو سره په ګډه په هېواد کې کډوالو ته د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی.

## خیبرپښتونخوا کې د مهاجرینو اتشې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له ایالتي مسوول سره وکتل

د غویي په لومړۍ نېټه په خیبر پښتونخوا کې د افغان مهاجرینو اتشې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له ایالتي مسوول ښاغلی کوفي اوهننا دودومو سره وکتل.

په دغې لیدنه کې د کډوالو پر وضعیت، د هغوی ستونزو ته رسېدنې، د اسانتیاوو پر برابرولو بحث او خبرې وشوې او په منظمه توګه د کډوالو ستونزو ته رسېدنې، د نغدي مرستو پر زیاتوالي، د افغان کډوالو د ارزونې دفترونو کې د وخت او ظرفیت پر زیاتوالي، د سرپناوو او لومړنیو خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وشو.

په اخیر کې د اړوندو ادارو ترمنځ پر همغږۍ، په رانه ډول د خدمتونو پر وړاندې کولو او منظمه راپور ورکونه ټینګار وشو، تر څو کډوال له غورو خدمتونو څخه برخمن شي.